مسؤولیت متن، املاء و انشاء این نوشته بدوش خود نویسنده میباشد.

صلاح الدین سعیدی ۲۰۱۷/۱۰/۱۲

# ونیول شو خو په عزت خلاص شو

یاره دا زه بې سواده یم که سواد نه شته او قحط الرجال دی؟

یاره دې وطن کې به د قانون حاکمیت او ښه دولتداري به کله راځي ؟

دا خپله راځي که څوک به یې راولي؟

ښکاري چي اشخاص دلته د قانون پر ځای د بو چا پر میخ الوزي او نازیږي.

د جلال آباد د بهسودو د پله د اعمار مسئله کې چي یو کس په لاس سمنت له پله توګل او د سمنت درک نه وه او پُل له شګو ښکاري او ښکاره تقلب او د کار کوالیته د منلو نه وه او قرار دادي ونیول شو او خوشي شو او ... وامو اوریدل او ومو لوستل: پُل جوړ او بهره برداري ته سپارل شوی خو لا تر اوسه څوک تسلیم شوای نه دی.

آفرین په والی صیب !

ودې لیدل د اتمر صیب زور؟

ودې لیدل بې ځایه مداخله؟ ودې لیدل څنګه خوشي شړ؟

ودې لیل څنګه د بې ګناه شخص عکس یې د محرم په توګه نشر کړ؟

هتک د حرمت او ....

که د جلال آباد د بهسودو د پله قراردادي د والي په امر نیول شوای او د جناب اتمر په امر خوشي شوای وي او قضیه همدلته ختمه شوه نو پوه شه چي مونږ نه نظام لرو او نه قانوني حاکمیت او نه د قانون حاکمیت او حالت مو بد دی.

نور مال حالت کوم حالت دی او کله به راځي؟

نورمال حالت: اجرائیه قوه، حکومت د قانون د تنفیذ لپاره څارنوالي په اختیار کي لري. کشفي ارګانونه کشفي کار کوي او معلومات جمع او حکومت ته ورکوي. حکومتي اداره (والی او جمهور رئیس) جریان د تخلف کې دي او ورځیني خبر دی د اجراآتو مرجع پولیس او څارنوالي ده. پولیس او څارنوالي عمل ونه کړ د خودی او پارلماني او ریاستي نظارت وجود لري او بې کفایته عدلي او کشفي ارګان مسوولیت ته را کاږي اما د عدالت تأمین کي کار نه لري. یعني والي صیب د عدلي او قضایي ارګان د عدم اجراآتو په صورت کي څارنوال او پولیس محاکمي او عدالت ته لیږي اما عدالت کي اجراآت د پولیسو او څارنوال کار دی چي مشکوک او بیاهم متهم ته د اتهام ابلاغ په ۷۲ ساعتو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

کې کوي او یا د محکمې نه غواړي چې هغه متهم چې توقیف کې دی د توقیف تمدید بنا پر دریو او یا یو د دریو دلایلو وکړي او یا اتهام او د توقیف د پاتې کیدو. سره سره قضیه ادامه پیدا کوي.

د توقیف دلایل کوم دي: ۱/تکرار د جرم، ۲/فرار له عدالته او ۳/ پر شهودو تأثیر واردول.

محکه د څارنوالی د توقیف د تمدید دلایل اوري. یا دلایل مني او یا نه مني او یا متهم په ضمانت خوشې کوي. دا ضمانت په قانون کې مشخص شوای دی او لکه د کابل بانک قضیه کې د هند د سفارت د یو غړي په تضمین د میلیونو دالر له توقیفه خوشې کول مجاز نه دی. که تضمین یې ورکړ او معینه موده کې تحقیق تکمیل شو نو بیا اقامهٔ دعوی کیږي او یا قرار صادریږي چې قضیه بنا پر کومو دلایلو وتړل شوه. قاضی یا د قرار سره موافق و یا مخالف او هر لوری د استئناف حق لري.

دا بحث ډیر جزئیات لري. خو د شخص نیول کیدل او د مشکوک او یا متهم خوشې کیدل د اصل قضیې د تحقیق د تکمیل او محکمې کې د هغې نهایی کول هغه خبرې او مسایل دي چې د قانون د حاکمیت نظام کې باید په جدي توګه مراعات شي او په نظر کې ونیول شي.

دا به کله راځي؟

دا به خپله راځي او ټولنه کې باید ټول سیاسي ستیج هغه ته متعهد وي او یا د بهرنیو په زور او ....دا پوښتني ځواب لري او د حل درستې لارې یې شته خو که کار اهل کار ته وسپارل شي.

د قانون د حاکمیت په لور!